بسم الله الرحمن الرحیم

اسلام علیکوم ورحمت الله وبرکاته

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : کلیوالی هیلې

لیکوال : نورالحق ( درویش )

د چاپ کال :

د چاپ  شمیر :

ډالۍ

ډالۍ تاته چې په غیږ کې دې ګرزولې یم
چې د بدو لورینه دې نه راباندی کیګې.
مورې

خانکړی ډالۍ

ډالۍ تاته چی تل دې هڅولی یم
ښه لار دې راوښوتلې ده.
ملکریه

( څو خبرې )

په دې کتاب کی د یوه بې وسه ځوان کیسه ده
د کیسه د دې لپاره نه ده چی د ځوان یا د چا د ژوند کیسه دې
وارویدله نو هغه ته دې اوښکی دوې کړی یا هغې کیسی ته وزنکیدي
یا د چا په پټو رازو خبر شو
نه داسی نه ده
بلکې موږ باید له دې کیسی یا دې بل چا له ګیسی پند واخلو
نو په دې ناول کې د یو ځوان کیسه پرته ده موږ باید د دې ځوان
له کیسی غټ پند واخلو یوازي د نه چی یوازئ ولولو بس خلاص
موږ باید له دې ناول څخه د دې ځوان دژوند کیسی څخه د همت
صبر استقامت یو څه زده کړو
زما د ټنګار سره هیله مند یم چی پند به ځنی واخلې.

( په مینه او مننه )

ډیر
ښکلی ژوند یی وه
ساده وه خو له مینی ډک وه
کوچنۍ کور وه
خوږه مینه او خوږه زندکې
له هر خا راتله خوشحالی
راتله زندکی ټول ارمانو یی پوره وه
وه پوره زندکی
د کور هر کونچ کې خندیده زندکی
د دوی حجره به د خلکو د رباب له ترنک او مرګو ډکه وه
په هر چا مین او نیکه کورنی وه د دوي په کورکی دري ماشومان
لکه ګلان وه چی عبدالله او جبار نومیدل او بله یی لور وه چی رڼا
نومیده
پلار یی د ښار په یو ښونځی کی مدیر وه په دو اونیو کې به کور
ته راتلو هر وخت به چی راتلو له ځان سر یی خوښی راوړلی خپلو
نازولو ماشومانو ته به یی سوغاتونه راوړل

د دوي کورنۍ غم نه پيژندو او نه يې هديره پيژنده نه درد نه يې پرهر پيژندو
پلار به يې چې له ښار راغلو د خپلو بچو سره يې به يې لوبې کولې هر څه ښه راون وه دوي د خپل ژوند څخه رازی وه
مشر زوی چې جبار نوميدو په نهم ټولکي کې زدکړې کولې و کشر زوی له وړوکې وه
د دوی کلی کې تر نهم ټولکی پورې ښونځی لوستل کيدو جبار هم نهم ټولکی خلاص کړو دلته نور لوست نه کيدو د پلار يې درس او زدکړې سره ډيره مينه ترلوده د پلار يې د يو ارمان وه چې يو زوی له ښونځی او پوهنتون څخه فارغ شی
کله چې دلته نور مخته ښونځی نه لوستل کيدو نو پلار به يې ښار ته ورسره بوتلو او هلته يې زدکړې کولې چې پلار به يې راتلو جبار به هم ورسره راتلو کورته ترڅو يې چې لسم ټولکی هم پايدته ورسو
د ژمی رخصتی شولې پلار يې بيه تنها ښار ته لاړ تر څو د زدکونکو نتايج وروسپاري نتايج يې وروسپارل
او بيه له يو بلې خوشحالی سره د کور په لور روان شو څکه چې جبار اول نمره شوی وه
چې کله د خپل کلی نه کوز کلی ته راورسيدو نيژدی مازدکير وه چې هغه ده وحشت به نوم مشحوره او له وير ډک غړ شو د دا طياری وحشتناک غړ وه
چې د يو وړې کورنی ژوند يې واخست هيلی اميدونه يې ورته ټوټی ټوټی کړل ټول ارمانونه يې له خاورو سره خاوری کړل د دې کورنی مينه محبت يې ټوټی ټوټی کړو هغه پلار يې کليوالو په ځادار کی راټول کړو په چابرکټ کې يې د پلار سوی ټوټی په اوږو راوړه کليوالو هم د شيبه نه شوی زغمی د دروازی مخته يې جنازه يو څه وخت کيږوده
د کلی ملک وويل پورته يې کړی يويسی
خو چا دومره زړه درلود چې د چا پلار ټوټی به دروازه ورننې باسی خو بيه هم بله چاره نه هغه ټوټی وجود يې په دروازه وردنن کړو

او د جبار مور چی جنازه ولیده بی حال یی د جنازه په لاور ور
مندی کړل خو د کلی خلکو پری نه ښود چی هغه ټوټی وجود وکوری
دلته د کلی ښځی هم د د جبار د مور په چیغو راغلی د جبار مور یی
ونیوله
جبار او خور او وړوکۍ وروره یی هم خبر شول خو جبار او خور
یی منډ کړه د جنازی په طرف خو چی وروره یی وړوکۍ وه ځای په
ځای پادی شو
دوی یې هم برینښودل د پلار ټوټی وجود وګوری د تر ټولو
دردکونکی شیبه وه چی پلار یی مړ ورته راوړی خو مخ یی د
وروستی ځل لپاره هم نه شی کتلی
واړوکی زوی یی د مور څنکه ته راغلو وویل ورته موری څه شوي
دي پلار می ماته څه راوړی پلار ماسره لوبی نه کوی پلار می ماپسی
منډې نه وهی
مور یې په بند بند ژبه وویل
نه زویه پلار دی ټوټي ټوټی وجود راوړي له موږ نه مرور دی موږ
سره خبری نه کوی
مور او زوی یی چیغی کړی

پلار یی د جنازی لپاره یوړو چی جنازه یی وکړی
په کور کی یی شور جوړ شو ویر جوړ شو برياد جوړ شو چیغی
شوی څه یی کړی وي بیدون له ژړا نه بل څه نه وه ورپادې
جنازه یی وکړه جبار او د جبار مور خور وړوکی وروره یی ورته
ګورې مخ په هدیره یې یوړو په قبر کی یې کیښودو د جبار او د
جبار موریی خور وړوکی وروره په مخکی یی خاوري پی واړوي
خو جبار ورمنډی کړي په چیغو چیغو یی وویل
مه کوي مه کوي مه یی پټوی مه رانه پنه کوي
خو کلیوالو نه منله خاورئ پی امبار کړي د دې کورنۍ په هیلو
ارمانونه یې په خاورو کی پټ کړل ښی ډیری خاوری یی پری واړوي
بس کلیوالو همدومره وکړل چی په پلار یی خاوري امبار کړي او
دوي یې تنها پریښودل لاړل دوي ژاړل ژاړل د هیلو ارمانونو په قبر

باندی یی ډیر وژړل ماښام پوری یی ډیر وژړل خو کوم سود یې
ونکړو دوي په لومړی ځل خپل پلار یوځی پریښودو او تری راون
شول د کور په طرف
بیه یې هم زړه په قرار نه شو د خپلی دروازی مختته کیناستل
ویژړال ویژړال خو زړه یی هځ نه صبریدو
کورته لاړل کور کی یی د کلی ښځی له نه وی تللی هغه ته یی هم
واژړل واژړل خو کوم سود یې نه وه هغه ترخاورو لاندی وه د دوی
غږ نه اوریدو
ژمی هم وه یخ وه جبار به هر ورځ د خپلی کورنی سره د پلار قبر ته
تلو او هر ورځ په تر ماښام هلته ناست وه کله کله به چی غم
ډیر پی زور شو ډوډی به یی هم هلته خوړه له
هر څو شپې وتلې خو زړکی نه صبریدو به ژمی کی یې د پلار هغه
راوړي لرګي سوزول دوی ته دې غم ورزیادو چی بیدون له پلار
لومړی ژمی تیروی د پلار هغه خوښې خوښې خبري هغه کیسی یی
غم او درد نور هم زیادو ژاړل ژاړل یی خو بیه یی هم غم کمیدو
نه زیادیدو ژمی ورو ورو خپل پنډه ټولوله ترڅو چی ژمی تیر شو
دوی یوڅه ځمکه لرله د ځل هغه ځمکی ته ټول لاړل خو د یو څه
کمی وه چی پلار یی وه له دوي سره هغه لارښود نه وه دوی د هغه
په لار قدم یږودو جبار باندی به کله اوښکی راتلی او کله به یی بیه
کار کوه تنهائ وه سوچ کی به هر چیرته ناسته وه هر ځای بیه یې
اوښکی دوې کړي وي دومره په زړه نازک شو چی هر وخت به یې
دسترکو چیني خلاصي وي اوښکی به یی بهیدی
د حالت د زخملو نه وه هر ځوک به چی به جبار ته کتل له ځان سره
به یی وویل اف سړی لاړ په غم ویلی شو
جبار چی ډیر هوښیار وه له ځان سر یی فکر وکړو چی داسی په ژړا
خو نکیکی یو څه باید وکړم د کورنۍ د وچی ډوډی خرڅ او خوراک
خو باید پیدا کړم له ځانه سره یی وویل اول خو باید ښه صادیق
وفادار او ټینګ ملګری پیدا کړم چی ترڅو زما سره مرسته کوی ماته
مشویره راکوی ما ښی لاری ته راکرزوی نو له همدی فکر څخه یې د
یو ښه ملګری په لټکی شو وغښتل چی د ژوند یو ملګری پیدا کړی

یو ورځ یی د ښونځی ملکری جلال په ذهن کی وکرزیدو چی جلال له حیا مینی محبت وفادار او ډیر زحمت کش وه نو جبار هم آتا(۸) نه(۹) کال ورسره تیر کړی وه هرڅه یی ورته معلوم وه نو له هغه سره یې ملکرتیا ټنکه کړه او ښه ملکری شولو د جلال د کورنۍ اقتصاد هم خراب وه نو جبار هم داسی ملکری غوښتو چی په هرشی کی ورسره برابر وی نو هغه یی پیدا کړو جبار د خپلې کورنۍ اقتصاد ته په  فکر کې وه چی ورځ په ورځ خراب یدو نو کله به کلی کی

د خلکو سره روزانی کولي د جبار دومره کار هم نه وه زده څکه جبار د پلار په نازونو کی لوی شوی وه هر څه پلار ورته چمتو کول خو چی ډیر وخت یی کار وکړو بیه یې لږ لږ کار زده کړو

خو د جبار د کورنی هغه خوښې نه وه پادی کوم چی د پلار په وخت کې یې لرله خلکو به خندال لوبی به یې کولی خو جبار بیه موسکی هم نه شو داسی ورځی هم بی راغله چی دوی به روژی نیولی چی ډوډی کمه مصرف شی خو د پسرلی په موسم کی به یی اقتصاد ښه وه ځمکه یې لرله

په کلی خلکو غوښتل چی کلی کی د مکتب لپاره نوئ ودانۍ جوړه کړی

خو ورځی شپی تیریدی په کلی کی مکتب د ودانۍ کارنو شروع کیدل نو د هغه لپاره یی کاریکر غوښتل هرچا خپل نومونه ورکړل جبار او جلال هم خپل نومونه ورکړل خو د کلی مشرانو لس نفر انتخاب کړل چی په هغو کې جلال او جبار هم شامل وه زړونه یې ډیر خوشحاله شول جبار کورته راغلو مورته یی په خوشحالی وویل کار کار می پیدا کړو

موریی وویل

چیرته

جبار وویل

کلی کی کیسه یې ورته وکړه مور یې هم خوشحاله شو دې یو څو ورځی وروسته د ښونځی کارونه شروع شول هر ورځ به تلو ښونځی ماښام به ستړی ستومان راغلو په پښو او لاسو کی به یی

دمه نه وه له جبار نه د ژوندی خوشحالی د ځوانی مستی ټول پادی
وه ټول وخت یی د کور په اقتصاد ښه کولو تیریدو
د ښونځی کارونه نیمایی ته ورسیدل دوی د پروژی کسانو ته ورغلل
او عرض یی ورته وکړو
ورته یی وویل
مورې کور کی څه نه لرو هر څه مو خلاص شوي که یوځو روپی مو
راکړي
د پروژی کسانو هم ټولو ته پنځه پنځه زر پیسی ورکړی
جبار او جلال هم ډیر خوشحاله شو کورته یی یو څه شیان پری
واخسل
جبار چی کورته لاړو مور یی هم ډیره ورته خوشحاله شو بیکه یی له
یوڅه مودې وروسته ډک ستراخان ولیدو
سهار بیه د هغه کار په طرف لاړو چی د جبار ژوند ته یې اومید
پیدا کولو
جبار او جلال دوی به چی کار کو له یوبل سره یی کیسی کولی د
نورو کاریکرو به پټه خوله کار کوه
بس نو شپی سبا کیدی او ورځی بیکا کیدی
ان ترڅو چی دی ښونځی کارونه پای ته ورسیدل
ژمی هم رانیژدی شوی وه جبار ډیر ورته  ورخطا وه
د ژمی یخو شپو ته فقر او غریبۍ ته
مورته یی وویل
موری زه څم ښارته د کار لپاره الله ﷻ مهربانه دی چی کار پیدا شی
مور یی د یوڅه چوپتیا وروسته وویل
سمده لاړ شه خو په ځان پم کوه
جبار زیاده کړه مور سبا به لاړ شم
مور یی ورغبرکه کړه نه زوی بل ورځ به لاړ شی چی یو څه شیان
ترته سم کړم
جبار وویل
ـ سمده مورې
دوی ورځی تیر شوی

سهار وختی یی چای وڅکو بیه یی په ذهن کی یو خبر راغله ناڅپی
یی وویل موری نن نه ځم د جلال ته به هم ووایم که ښار ته لاړو
راسره
موری له یو چوپتیا ورسره وویل
سمده زویه ورته واویه جبار وویل
سمده
سم د لاسه پاڅیدو د جلال د کلی په طرف روان شو هلته یی د
جلال کور هم نه وه ورته معلوم خو بیه یی په پوښتنه پوښتنه کور
پیدا کړو دروازه یی ټک ټک کړه جلال له هغې خا غږ وکړو څوک ی
له دی خا غږ ورغلو جبار یم
جلال په پیړه دروازه واخلاص کړه له خوشحالی له جبار لاسونه
تاو کړل
ډیره ورته خوشحاله شو دی چای سات یی ورته وکړو
جبار هم ورسره لاړو کوټی ته لاړل جلال چای راوړو
جبار وویل
زه د یوی خبر لپار ترته راغلی یم
جلال وویل
وایه کنه زوروه
جبار وویل
سبا ځم ښار ته دی کار لپار که راسره ځی نو ملکري به شو
جلال د یو څه چوپتیا وروسته وویل پاڅیدو زه کور خوښه وکړم
بیرته راځم
جبار وویل سمده ورشه
جبار په کوټه کی ناست وه یو څه وخت وروسته جلال راغلو وویل
سمده جبار خانه سبا می تر سره وعده ده ځو به ښارته
جبار وویل
سمده سبا دی له دراوزی سره ودریکه سبا زموږ له کلی نه د میر
محمد موټر ځی ښارته په هغه کی به لاړ شو
جلال وویل سمده
جبار پاڅیدو

خدای په امانی یی له جلال سره وکړه او روان شو مخ د کور په طرف کورته ورسیدو مور ته یی کیسه وکړه سهار وختی پاځیدو په لاره کې ودریدو
یخ نری باد لګیدو
د کلی شایسته پاکې اوبه پاکه له مینه محبت ډکه هوا یی په مخ لګیده تر څو چی دې میر محمد د موټر غږ شو موټر ته یی لاس ورکړو ورپورته شو
کوز کلی ته چی ورسیدو جلال هم لار باندی ولاړ وه او موټر ته پورته شو له جلال له راختو سره
یو سپین ږیری چی لاس یی رږدیدل وویل یو د خیر دعا وکړی ټولو لاسونه پورته کړل دخیر دعا یی وکړه
یو باخه ځوان وویل الله دې وکړی چی چی کزمه نه وی راوتلی یو بل وویل چی په ږیره کی یو یو سپین ویړته وه الله ﷻ مهربانی دی موټر راون شو

دلته یې بیه د مور دردونه تازه شول
څکه خپل خاوند یی د همدی ښار په لارو له لاسه ورکړی وه
لاړ دو رکعته لمونځ یې وکړو بیه یې خپل زوی ته دعا وکړه
هلته بیه جبار او جلال د ښار په لار روان وه د کلی ښایسته منظیرې له سترګو تیروی
یو څه مزل وروسته د باخه سرک ته ورسیدل هغه سرک چی هځ کومه ورځ به بیدون له جنګه نه تیریده
کزمه هم راوتلی وه چی یوڅه مخکی لاړل مخکی یی د بم غږ شو لږ وروسته چی کردونه ورک شول ټانک ټوټی ټوټی پورت وه عسکر په پیږ موږ د موټر خاته راغلل وویل ترسره راوستل مو له موټر یی ټول ښکته کړو یو عسکر چی غټ غټ برت یی وه ډیر بد رنګه وه وحشتناکه څهره یی وه وویل
کوم یو اول مړ کړم له دی سره ناځاپې د وسلو د ډزو غږ شو ټولو د سرک یوی او بلی خاته ټوپونه واچول
خو جبار یوی او بلی خاته ګوری جلال لټوی

ولی چی سر پورته کړی د مرمی شنک یی له غوږ تیر شی بیه سر ښته کړی دوی د دو ډلو په منځ کی بند پادی وه له یو بلی خا د سرو مرمیو باران وه جبار بیه هم کامیاب شو او جلال یې پیدا کړو دی سرک ابلی طرف ته ځملاستلی وه

جبار هم ځملاستو د اخ اللّٰه

غږ یی ورویدلو چی سر یی راپورته کړو د جلال په لوری یی وکتل له مټ يې د سرو وینو داری وهی په سترکو یی توره شپه شو او پاځیدو د جلال په طرف یې منډه کړل خلکو چیغی کړی ځمله ځمله مه ځه مه ځه خو جبار د چا غږ نه اروېدو تر څو چی تر جلال پوری یی ځان ورسو د جلال سر یې په غیږ کې کیږود د جلال له زخمه وینې بهیدی

او د جبار له سترو اوښکو داري وهی د سرو مرمیو په باران کی په میدان کی ناست وه اوښکی یی بهیدی

میر محمد بری غږ کړل ځمله وبلکې

جبار له خولی غږ راووت وویل دغه مړ کیکی زه هم باید مړ شم جنک ورور قراریدو ترڅو چی جنک په قرار شو عسکر د خپل مړو په ټولولو بوخت شول میرمحمد چیغه وکړه پورته کړه موټرته خو د جبار له لاسو او پښو ځخه سآ ختلی وه نه شوئ کولی چی جلال موټرته پورته کړی یو بل ځوان راغلو جلال یې موټر ته پورته کړو د موټر خلک ټول موټرته پورته شول موټر راون شو خو جبار ځه نه لیدل نه  یی اروېدل یوازی د جلال شایسته مخ غټو غټو سترکو ښایسته ځهری ته یی کتل

خوله او ستونی یی وچ وه غږ یې له خولې نه راوتو

بقد یې اوشکی بهیدی یو سپین ږیری په مټ وټبوم وویل غم مه کړم انشاالله جوړ رسیکی روغتونه ته  جبار وویل

 رښتیا د نه مړ کیکی سپین ږیری وویل نه نه مړکیکی موټر د بریک کښ شو

 میر محمد له موټر ښکته شو سیده د روغتونه په لاور یې منډی کړی او له هغی خا یې تسکیره راوړه جلال یې کې واچو او نیمه سا له کې وه په روغتون ته یې د نن کړو جبار ورمنډی کړی تر دلیز

پوری ورسره لاړو خو نوری یی اجازه ورنکړی بیرته راغلو په دلیز
کی انتظار کیناستو رنک یې له غم او ویرې تک زیړ وه
بی بروا اوشکی یې له سترکو بهیدلی انتظار ناست وه په فکر کی
یې ډول ډول خبر راتلی ځان سریی لکه لیونی خبری کولې
وویل نه نه مړ کیکی نه نه هغه تکړه دی نه نه هغه ډیر تکړه دی هغه
قوی دی د خبر یې کولی چی ډاکټر یی په مټ زور وکړو وویل ورته
وینی ته اړتیا لرو
جبار چی ژبه یې بنده بنده کیده وویل څنکه څنکه شو جلال څنکه
شو ډاکټر وویل
مرمۍ مو ځنی ویسته خو وینه وینه یی ډیره ځنی تللی ده وینی ته
اړتیا لرو
جبار د ډاکټر لاس په خپل لاس کیښود وویل
زما زما وینه وګوره ډاکټر وویل
ارامه اوسه سمده راځه راپسی
د جبار وینی چک کړه د جبار وینه هم له جلال د وینی سر برابر وه
وینه یې تر واخسته
خو جبار بیه همغسی په دلیز کی انتظار ناست وه او کډ وډ فکرونه
یې وهل بخی په ځان نه پوهیدو ویره اخستی وه
له ځان سره یی وویل انتظار څومره سخت دی
یو څه وخت وروسته ډاکټر له اطاق څخه رابهر شو او جبار په پیړ
ورغلو وویل څنکه شو
ډاکټر وویل غم مه کړه جوړیکی انشاالله اوس مو د بی حوشی
بیچکاری ورکړه چی لږ آرامه شی
بیه چی په حال راغلو بیه ورسره ووینه د جبار زړه لږ ارامه شو
جبار وویل سمده
د روغتون په دلیز کی یی زړه پتنک شو لاړو د روغتون د مخی پارک
ته زړه یی اوس هم هغسی مستی نه کوله نی یی زړه هغسی ډاډمن
وه هغه د جنک سحنی یی په سترکو تیرده د خلکو مړه کیدل د
مرمیو شور یی په غوږو کې له پادی وه یو څه وخت وروسته لاړو
د روغتون په طرف بیه یی هغه ډاکټر پیدا کړو وویل ورته آیا اوس

به په حال وی
ډاکټر څواب ورکړو هو انشاالله راځه راپسی
جبار د ډاکټر ترشا پسی روان شو د اطاق دروازه یی چی خلاص
کړه زړه یی ښه نه شو
خو هڅ یی نه شوی کولی
په اطاق ورننوت جلال سترکی د دروازی په طرف واړوی رنک یی
زیړ وه خاموش پروت وه
جبار ونیژدی شو وویل ښه یی
جلال وویل ښه یم
ډاکټر وویل ډیر یی مه غږوه
جبار غږ ونکړو ډاکټر واوتو جبار سلکو واخست وویل له مرکه بیرته
راوکرزیدی جلال وویل
نه ورورکه نه انشاءالله دومره زر نه مړ کیکو انشاءالله زر په تر
خپل مزله راسو جبار وویل انشاءالله
ډاکټر راننوت وویل مهربانی وکړه مریض یوازی پریږده او واوزي
جبار وویل جلال زه بیه راځم که خیر وه له اطاق واوت
یو څه وخت به ناست وه چی پنځه تنه عسکر د روغتون دلیز ته
رانن وتل یو دم یی د جبار لاسونه ولاچ کړل او سترکی یی وروتړی
له روغتون یی ویستو
خو چا دومره هم ونه ویل چی ولی یی لاس ورتړي او په موټر کی
یی واچو موټر روان شو
خو جبار نه پوهیدو چی چیرته می وړی اوس چیرته یم له یوڅه
وخت وروسته موټر ودریدو جبار یی په زور له موټر څخه راکته
کړو په ټله ټله کولو یی په یو ودانی ننیست هلته یی سترکی
ورخلاصی کړی
د امنیت مامورید په چوکی یی کینولو شا خا یی چی وکتل وینی
او وښتان پراته وه چاغ سړی یی مختی ته کیناستو چی غټ غټ
بریت یی وه وویل
واویه هر څه رښتیا واویه جبار حیران ورته وکتل
چاغ سړی وویل

زر زر واویه جبار حیران ورته ګوری نور هځ نه وایی څکه جبار کی
څه نه وه څه یې ورته ویلی وي
چاغ او بد رنک سړی په مخ واوهو وویل غړ وکړه
جبار په بنده بنده ژبه وویل
څه ترته واویم ما څه کړی دی
چاغ سړی بل ځپړ په مخ واوهو
چاغ سړی په قهر وویل
د واویه چی چا رالیکلې یی او د څه لپار راغلی یی د چا نفر یی
څوک واژنی
جبار چی د خبری واروېدی هځ یی ونه ویل چوپ شو چاغ سړی
وویل
لړ یی نرم کړی
نورو نفرو له چوکۍ څخه راواخورځو لغتو ته یې واچو تر هغه
پوری یی واوهو ترڅو یې چی به مخ یې وینی وبهیدي
چاغ سړی وویل بس یی دی راپورته یې کړی بیه یې په څوکی کینو
چاغ سړی وویل سر دی خلاص شو اوس واویه
جبار په لوړ غړ وویل
څه ترته واویم خو مجبور کوی می چی ځان کنهکارحساب کړم په
روغتون کی می ملکری زخمی پروت دی ستاسو د لاسه
چاغ سړی په ترخه خندا وویل
هغه ولی زخمی شو
جبار وویل
ستاسو وحشیانو د لاسه جبار په مخ ترنه ځیېړه وخوړه چاغ سړی
له کوټی واوت

هلته بیه جلال خبر شو په پیړه له اطاق راووتلو په چیغو چیغو یې
جباره جباره وویل
خو څه یی پیدا نه کړل
لکه د ماشومه نه چی خپله مور ورکه شی یو بلی خاته یی منډی
وکړی خو ستړی ستومان په چوکی کیناسو د مټ د زخم له دردہ بی

حال راولوید ډاکټران راغلل مینخانی ته یی د نن کړو په درملنه یی بوخت شول
خو هلته بیه جبار د مرک به پیستر پروت وه دریم ورځ بیه هغه چاغ بدرنک سړی راغلو
جبار د ځان سره وویل
که په تیره کوټه کی مې لیدلی وه نه ویریدلی به وی چاغ سړی به چوکی کیناست وویل سر دی خلاص شو
جبار وویل
څه واویه دروغ واویه په ځان تور ولکوم چی قتل یم چی ترهکر یم چی غل یم داسی په ځان تور ولکوم چاغ سړی وویل برق ورکې برق یی ورکړو دومره برق چی ولاړدې نه شوي یوي بلی خاته لړنکیدو
په چوکی یی کینو چاغ سړی وویل زه بیه راځم فکر پې وکړه
چاغ سړی واوته یو څه وخت وروسته بیه بل عسکر راغلو په لاس کی یی وچه ډوډی وه
وویل د وخوره بیه یی وویل
ترخو پورې به دلته یی
د لاس په اشاره یی وویل یو څه نغدي ورکړه
جبار حیران شو وویل
آیا هغه جنک چی افغانان زخمیان شول شهیدان شول عسکر یې خبره پرې کړه
وویل نور نه پوهکم که غواړی چی خلاص ما ترته وویل نور خلاص له دی خبرې سره عسکر واوت
یو ورځ بله هم تیر شو
چاغ سړی راغلو وویل اوس به دی هتمن سر خلاص شوی وی چی کیناسو جبار وویل هو سر می خلاص شو
جبار وویل آیا په هغه جنک چی د افغان وینې دوي شوي آیا هغه د پیسو په نامه کاغذو خرخوی آیا هلته چی افغانانو ژوند د لاسه ورکړو هغه په پیسو خرخوی آیا هغه معدن دی چی غله کیکی آیا هغه باندی ماړه نه شوي اوس ویني په پیسو خرخو آیا هغه کنهکار

خلک چی وانیسي هم داسی چلند ورسره کوی آیا همده تاسو د وطن مینه محبت دی
بیه جبار به څو څو ځله وویل خاینانو خاینانو خاینانو
چاغ سړی وویل د جبار لاسونه ورخلاص کړل تر مټ یی راوانو
بیرته یی له توری تیری کوټی له هغی وحشت او بد بخته ځای ځخه راویست جبار د ځان د زخمو په کیسه کې نه شو بې بروا د روغتون به طرف مندي کړی
روغتون په دلیز کې یې یوی بلی خاته حیران حیران ګوری ترڅو یی اطاق پیدا کړو بې بروا ورننوت
په جلال یې سترکی ولیکیدی د خوشحالی اوښکی یې په مخ راغلی جلال ته یی غیږه ورکړه ډیر وخت یې په غیږ کې سره نیولی وه بیه یی د سترکو ځخه اوښکی بهیدی وژاړل وژاړل
خو یو ځله بیه جبار دا خپلی مړانی او همت په وچه له زندان ځخه خلاص شو خپل هغه ورک ملکری یې بیه پیدا کړو هلته بیه د جبار د مور اندښني زیادي شوي
ورخطا شو پوره لس ورځی تیری شوی چی کوم حال یی نه وه خو په هر لمانځه کی یی دعا ورته کوه د خور وروړ یې هم د حال وه چی ساعت به تیریدو ویره به یی زیادیده
هلته بیه جبار او جلال هم پوهیدل چی اوس به مو کور اندښمن وی خو د جبار موبایل ، پیسی ټول یې په زندان کی ځنې واخستل بیه یی ورنکړل
د جلال کورته یې زنک وکړو ترڅو د جبار که هم وارشی حال ورکړی چی دوي جوړ او روغ دي  همداسی یی وکړل همداسی وشول ځنکه یې چی زړه غوښتل بیه دواړه د روغتون ځخه ووتل ترڅو یو کار پیدا کړی
له هر چا یی پوښتنه کوه کار کار خو په یو نانوایې کی یې کار  پیدا کړو چی د ورځي  یې دو دو سو افغانی یې ورکوی ژمی یې هلته تیر کړو یو څو پیسی یی وکټی

په پسرلی کی یې د کور نیت وکړو بیه په هغه لاری باندی تیریدل

چی له مرک څخه بیرته راوکرزیدل خو دوی هوډ وکړو چی نوی کال په رخصتیو کی به کورته ځي څکه هغه وخت جنکه زیاد  وخت نه وی نو بازار ته ووتل یو څه شیان یی له ځان سره واخستل توکل یی په یو اللهﷻ وکړو
روان شول د ځل به خیر ورسیدل  د کلي شایسته او پاک له خوند او مینی ډکه هوا یی په مخ ولکیده د الله ﷻ شکر یی اد کړو
جلال په خپل کلی له موټر څخه کوز شو او جبار د خپل کلی په طرف لاړو جبار هم د خپلی دراوزی میخی ته کوز شو ناڅاپی یی له سترکو اوښکی راغلی واژړل د پلار وختونه ورته یاد شول کله به یې چی پلار راغلو نو دوې به په منډه د دروازی په طرف منډې وهلې کله کله خو تر سهاره ان تر هغه
ته راتلو پور هلته ناست وه بیه یی چی اوښکی ودریدی خپله دروازه یی ټک ټک کړه څو شبي وروسته یې د دروازی له بل طرف غږ راغلو څوک یی ؟
جبار غږ وکړو جبار یم
موری دروازه خلاصه کړه
مور یې چی دروازه خلاص کړه
 سترکی چی په جبار ولکیدی د خوشحالی نه یی جبار په ټنټه مچ کړو وویل راځه راځه زوی د ننه کورته راځه بیه  کورته لاړل هلته یی چی خور ولید خوری یی ډیر خوشحاله شو بیه چی ورور ولید غیږ یی ځنی تاو کړه ښه یی ټنک کړو موری وویل زوی جانه ډوډی دی خوړلی ده جبار وویل
نه موری خور یی لاړه دو داني هګۍ یی ورته بخی کړی  هغه یې وخوړی
مور یی وویل ښنکی وه مسافری
جبار وویل
ورک یی کړه مه کوه پوښتنه که کیسه یی ترته وکړم نو به غمجنه به شی
مور یی وویل
 ته واویه زویه څه ترپیښ شوی دي

جبار هغه د لارکی د جلال زخمی کیدل او د زندان ټوله کیسه ورته وکړه مور رښتیا هم غمجنه شو بیه یی الله ﷻ شکر ادا کړو وویل شکر دی زویه چی روغ او جوړ راغلی.

هغه فقر او غریبي یی لړ ختمه شو
بس همداسی شپي او ورځی تیری دی نو بیه یی خپله ځمکه وکراله ښونځی هم شروع کیدل نو د کلی ښونکی هم کم وه نو خلکو د پریکړه وکړه چی جبار د ښونکی په ځیر دلته دنده ترسره کړی که څه هم جبار د دولسم صنف څخه نه وه فارغ بیه یی د یو فارغ کس په ځیر یی زدکړی لرلی نو د خلکو هم خوښه شوه چی جبار په کلی کې د ښونکی په ځیر دنده ترسره کړه

جبار نور هم د خوشحاله شو نیږدی دی چی له خوشحالی وچوی خو جلال لږ وخت تیردو چی د ښونځی کې زدکونکی ډیر شول نو جبار د ښونځی له مدیر څخه وغوښتل چی جلال د ښونکو په ډاله کی وانیسی مدیر هم دا کار وکړو جلال یې ښونکی یې کړو
دوی په خپل درس باندی بوخت وه زده کونکو ته یې درس ورکو که څه هم جبار او جلال ځوریدلی وه په ژوند کی ډیر سختی کالیلی وې نو خپله وظیفی څخه خوشحاله وه
نو جبار به خپله وظیفه ویاړیدو چی د خپل پلار لار یی تعقیب کړی ده خپل دنده کی ډیر سخې وه د کلی خلک هم ډیر ځنی خوشحاله

وه خو جبار به کله کله سترکی له اوښکو ډاکی شو هغه وختونه به وریاد شول
چی پلار به جبار کوز کلی ته په موټر کی ښونځی ته وړو
یو ورځ یو زده کونکی پوښتنه څنی وکړه ښونکیه ولی ژاړی !
سترکی دې خوښیکی جبار وویل
نه زړه می خوښیکی زړه
زده کونکی وویل
ولی ښونکیه ؟
جبار وویل څکه چی زما په زړه باندی زخمونه دی
هغه کله کله درد وکړی
داسی درد چی د زغمولو نه دی له دې سره د ښونځی د زنک غږ شو
د دوې خبر په شور کې نه اروېدل کیدی
مخ په کور روان شو
جبار له ځان سره هوډ وکړو چی د دو ټولکي یی چی نه وه لوستل
هغه هم ولولي څکه چی کوز کلی کی چی کوم ښونځی وه هغه
وخت کی تر نهم ټولکی پوری وه
اوس ان تر دولسم ټولکی پوری وه نه د هوډ یی د مور او جلال سره
شریک کړو
جبار وویل
موری زه به خپل زدکړی مکملی کړم مور یی وویل
څنکه؟
جبار وویل
څم د کوز کلی کې پادی درسونه پای ته راسوم
بیه یی زیاده کړه
ورور مې هم ستی لوی دی
مور یی وویل
سمده
نو لاړ یولسم ټولکی ته ازموینه ورکړه ښې نمرې یی یوړې له هغه
وروسته به هر سهار په کوز کلی ته تلو د خپل زدکړو لپاره او
وروسته له غرمی به بیه خپل کلی کې زدکونکو ته درس ورکو

جلال ته یی یې هم وویل
راځه ته هم بیرته ښونځی شروع کړه خو
جلال وویل
مینه ډیره ورسره لرم خو مشکلات لرم نه شم کولی چی ولولم
د نه ځواب یې ورکړو چی نه شم کولی په وس می نه ده پوره ب
س همداسی شپې او ورځی تیریدی د کال هم تیر شو
یولسم ټولکی ته په دوهم درجه کامیاب شو خوشحاله له یو بلی
هیلی سره کور ته راغلو د ژمی شپې وی خو د ځل هغه سخت او
یخ ژمی نه وه
هغه بی وسه ژمی نه وه هغه ژمی نه کوم چی دوې به هرچاته لاس
نیولی وه د ځل دوده او له هیلو ډک ژمی وه ټول ژمی یی خپل
درسونه او خپل ژوند ته یی پلانونه نیول ترڅو راتلونکی کال کې
یې عملي کړی خوشحاله له شور مستی او خوند ډکه زندکی یې
کوله د غم اوښکی یی نه دویولی بلکی د خوشحالی اوښکی
یی دویولی کله کله به وزنکیو د خپل پلار تصویر ته یی لږ ساعت
وکتل بیه به یی د مخ جیب کی وچولو له یی د پلار مینه په زړه کی
ژوندی وه
ژمی هم تیر شو خپل درسو او خپلی وظیفی ته یی ادامه ورکړه
ترڅو یې چی له ښونځی څخه په لومړی درجه کامیاب او د کانکور
ازموینه ته یې درسونه ویل د کانکور ازموینه کی په ښو نمرو د
ادبیادو پوهنځی ته کامیاب شو ډیر خوشحاله وه څکه چی د زړه
ارمان یی پوره شوی هغه لار یی ونیوله کومه لار یې چی پلار نیولی
وه د پلار په قدام یې قدام ښیو او په هغه لار یی مزل پیل کړو
هیله یی پوره شو زړه یی بخی هوا کړه هر چا به مبارکی ورکوه دی
هر چا له مبارکی سره به په زړه کی یو بله هیله پورته کیده
غوښتل یی چی د پوهنتون درسونه هم پای ته ورسیوی خو
اقتصادی مشکلات یی لرل بل خا بل مشکل وه که کلی نه لاړ شی
نو هغه ښونځی چی د هغه په واسیطه الله ﷻ رزق ورکو هغه ځنی
پادی کیکی
مور ته یی وویل زه به ځم چی هر څنکه وی پوهتون به وایم

موری یی وویل
په څو ښې به ځی پیسی یو هم نشته او ته وایی چی پوهنتون وایم
جبار وویل
نه یو چاره به کړم لاړو د ښونځي په طرف
نو فکر کې به ډوب ناست وه  لاړ جلال سره یی مشوره وکړ
جلال ته یی د خپلی بی وسی کیسه وکړه
جلال وویل
زما سره هم دومره پیسی نشته چی ته دې ټول درسونه پری واویی
نو یوڅه پیسی راسره شته  که غواړی یې در یې کړم جبار فکر کې شو
جبار وویل
سمده ته هغه راکړه زما سره هم یو څو شته   یو څو به له یوی او بلې خا پیدا پیدا کړم   جلال هم پیسی ورکړی ځنې روان شو یو څه پیسی یی د کلی له خان څخه واخستی نو سبا ته یی هوډ وکړو چی ځی به د خپل نیت د پوره کولو لپاره ښار ته شپه شو نیمه شپه وه چی د وحشت اوازه خپره شو هوا کې د طیارو غږ شو ناڅپی یی ټول کلی محاصره کړو کور په کور به کرزیدل د خلکو کورو ته به تلل هر څه به یی ورته وشندل هر څه به یی ورته کډ وډ وکړل ان د ځینو کورو سږي یې هم ورسره بوول تر څو د جبار کورته راغلل نو کور یې ورته  کډ وډ کړو او جبار ته یی هم لاس ترشا وروتړل او له ځان سره روان کړو مور یې له کوټی راووته
چیغو یې وویل
  د مه کوي  ما بوزی د دې هیلی زیادی دي د ځوان ده مه بوزای
خو هغه لکه کاڼه خبر یی نه اروېده سترکی یې وروتړی او ځان سره یی روان کړو خو د جبار کور کې  غوغا وه شور اوښکی وی سلکی وی
د جبار په فکر کې کډوډ فکرونه راتلل د هغه زندان د وهلو فکرونه یی سوچ راتلل له ځان سره یی د دې آخیري ځل دي له ځان یی کینول  ان تر څو چی دوی په خپلو طیارو کی سپاره شول دوی یې

هلته همغسی چی سترکی او لاس یی تړلی وه پریښودل
دوی د لوړو لوړو غرونو له سرو پنا شول جبار او یوځو نور نفر چی هلته لاس سترکی تړلي پریښودل  د کلی خلک هلته ورغلل د دوي لاس او سترکی یې ورخلاصی کړی مخ د کور په طرف راغلل جبار کورته د رارسیدو سره یی سم مور مخ ته  ورمنډی کړه او غیږ یی ځنی تاو کړه په تندی مچ کړو د الله ﷻ شکر یی ادا کړو سهار یی بیه هوډ وکړو چی ښار ته لاړ شی خو د ځل روان شو
مخ د ښار په طرف  د راسیدو سره سم مخ په پوهنتون روان شو لیلیه یی وانیو خپل درسونه ته یې داوم ورکړو جبار به خپل درسونه په ښه توکه او ښه شوق سره لوستل هر وخت به یی ښه نمري وړلي

کلی کې بیه د جبار ورور عبدالله ته د خپل د کور مسولیت ورپه غاړه شو عبدالله هم هوښیار له مینی محبت ډک وه غټی غټي سترکی خوږه ژبه یی لره جبار د پوهنتون لومړی دوهم ټولکی د اقتصادی او کنو نور مشکلات سره بیه هم خلاص کړو
د دریم ټولکی په پیل کید سره یی په یو ښونځی کی وظیفه هم پیدا کړه وظیفه سره یی ډیر احطیاط کړه په ښه توکه سره یی ترسره کوله خپل درسونه کی یی ډیر کوشش کوه د کال په وروسته یو کې یی له ځان سره هوډ وکړو چی خپله کورنۍ هم ښار ته راولی دلته یو کور وانیسی
له ځان سره فکر وګړو چی مور خو می خلر هتمن منې  نو لاړو یو واړوکی کور یې پیدا کړو او ژمنه یی ورسره وکړ چی موږ به دې کورته راځو
 لاړو مخ د کور په روان شول چی د خپلی مور او کورنۍ سره مشویره وکړی
ستړی ستومان کور ته راورسیدو
 خبر یی له مور سره شریکه کړه مور یې له یو څه فکر وروسته وویل
 زویه که خپل کلی پریښدو نو پریدی کیکو ځمکی  مو له لاسه وازی

نه شو کولی چی څه برې وکړو
جبار وویل موری نور نه شم کولی چی هلته ښار کې تنها واوسیکم
دلته کار هم نه شم کولی تاسی تنها نه شم پریښودي نو ښه د چی
ښار ته لاړ شو ځمکه به دهقان ته ورکړو تر څو چی راته کآله یې
کړی
مور یی هم زړه نا زړه خبر ورسره ومنله د ښار د تلو هوډ یی وکړو
جبار وویل دوی اونۍ وروسته ته به لاړ شو مور یی هم ورسره
ومنله
د ځمکی لپار یې دهقان هم ونیوه چی ډیر د پاک زړه خاوند او
مسلمان کس وه چی میر احمد نومیدو
دوی اونۍ وروسته یی د کور هر څه په یو موټر کې بار کړل له
هغی کوره چی د دوی خبوړی کې کړی وه له هغی کوره چی دوی
خوشحالي کې کړه وی له هغو کوره چی دوی سختي شپی او ورځ
کی تیری کړی وی له هغه کوره چی دوي د پلار جنازه کی ییښی وه
خو خیر سهار وختی راون شول له کلی کور څخه چی پنه کیدل
جبار لاس پورته کړو په لوړ غږ چیغه کړه
خدای په امان بیه هم إن شاء اللّٰه راځم
او له کلی ځخه پنا شول ښار ته په راسیدو سیده مخ په هغه کور
لاړل کوم چی جبار دوی اونۍ له مخ نیولی وه د کور د دروازی
مختہ موټر برک ونیو دوی له موټر څخه راښکته شول د جبار مور
او خور د کور په دروازه ننوتل عبداللّٰه او جبار د شیانو په ننستو
شروع وکړه یو څه وخت وروسته یی شیان ټول ننیستل او ځای
په ځای کړل د جبار د پوهنتون هم دریم ټولکی هم په خلاصیدو وه
کله چی خلاص شو نو ژمی کی په یو کورس کی دنده ترسره کوله
ټول ژمی به هغه کورس ته تلو او د هغه ښونځی معاش به هم ورته
راتلو چی د دوی اقتصاد کی به کوم مشکل نه پادیکیدو ژمی هم ښه
په خوشحالی او په مینه محبت تیر شو دوی ډیر خوشحاله وه ژمی
چی کله پای ته ورسیو عبداللّٰه ته یی هم په اوم ټولکی کی داخله
وکړه د جبار د پوهنتون وروستی کال وه کله کله به همسایه له کوره
ښځی د جبار دغو که راتلی خور او مور به یې پم ورسره غلتیدو د

جبار مور او خور به زیادی خبر نه کولی نه یی په شور خبری کولی ارامی له مینی او محبت ډکی خبری یی کولی د کلی د همسایه کانو به ښکه ډیر ورکه راتلل یو ورځ جبار هوډ وکړو ترڅو یوه ملمستیا وکړه همسایه کانو سره چی مینه محبت او خپلوی زیاده شی او سره وپیژنی کور یی له مور سره هم خوښه وکړه مور یی هم ورسره ومنله دکلی یو څو نفرو ته یی هم حال ورکړو چی هغه کی جلال هم وه جمعی ته یې نیته وټکله بس جمعه راغله د کلی ټول همسایه ګان یی راوښتل جلال هم راغلی وه د کلی ملک هم راغلی وه جبار له خوشحالی په جامو کی نه ځای یدو برخوله یی موسکا پرته وه جلال په مټ وټپوه وویل
هڅو کې کامیابی شوی ما ونشوی کولی چی هیلو ته می ورسیکم ته د کلک هوډ خاوندی یې
جبار وویل
نه یاره د ستا هڅونه وه چی زه دې ځای ته راورسوم بیه یې پسې زیاده کړه ښه ملکری نیم د مشکلاتو حل ول دی
به یې خپل غیښه یو بل ته ورکړی هغه پیسی چی جلال قرض ورکړی وی هغه یی هم ورکړی او رخصت یی کړو مخ د کلی په لاور جبار د کور په طرف قدامونه کړندی کړل
یو څه وخت وروسته یی د پوهتنون لیسانس تر لاسه کړو هغه نه وروسته یی خپله وظیفه ښونځی کې ترسره کوله یو څه وخت وروسته یی د ښونځی د مدیر په توکه دنده ترلاسه کړه هر سهار به خپلی وظیفی ته تلو مازدیکر به راتلو د جمعی په ورځ به له خپلی کورنۍ سره چکر ته وتلو ژوند او زندکی یی په خوشحالی تیرده نور یی هم د درس لپاره ځان آماده کړو ماسټری یی هم وکړه یو څه وخت وروسته یې په یو پوهنتون کی د مدیر په توکه دنده ترسره کړه لږ وخت وروسته یې مور ورته یو ښایسته میرمن خوښه کړه او د واده کارتونه یی ولیکل خپل کلیوال او دوستان یی د واده خوشحالی ته راوغښتل یو څه وخت ورځ وروسته غوښتل شوی خلک راغلل
د ژوند یو بله هیله یی له خپلو دوستانو او خپلوانو سره ولمانځله

صبر یې وکړو همت وکړو زحمت یې وکیښ تر خپلې وسی پورې یی
همت وکړو ان ترڅو چی هیلو ته ورسید هر څو ځله چی ناکام شو
خو بیه یی هم خپلی هیلی بدلی نه کړی په خپلو هیلو پسی روان
شو د جبار همت جبار ته هر څه ورکړل
او هر څه یی ورته اسانه کړل د جبار صبر جبار ته هر څه په خپل
وخت ورکړل د جبار زحمت جبار ته په هر څه کې خوند ورکړو هرڅه
یی د هغه له زحمت له کبله له خوندو ډک کړل د جبار ستړیا  بیه
وروسته د جبار ژوند  ورته رنګین کړو
د جبار اوښکو د هغه زړه مړ نه کړو بلکی ژوندی کړو هر څه ته یی
آماده کړو هر څه یی ورته زده کړل
جبار په ازموینه  کی کامیاب شو له غم درد غریبی فکرو زحمت
څخه راواوت
یو نوی له خوشحالی مینی محبت ډک ژوند یی پیل کړو.

پاے

(  مینه او مننه د درویش له طرفه ومنه )

آخرین ویرایش: ۳:۱۷ ب.ظ